مصطفی پسرلی ۲۰۲۲/۰۵/۲۶

غزل

ورکه د منزل لاره، دا کاروان په بله ځي
مونږه یو په شا روان، ټول جهان په بله ځي

نشته دی حاجت د چا خپلې غوښې خپله خورو
ځان مو کړولی دی، نوم، نښان په بله ځي

مینه بازاري شوله، خوی د عاطفې نشته
ځکه زه په بله ځم، زما جانان په بله ځي

مات شولو وزر زما، نور د الوتو نه یم
تور کارغان راغلي دي، خړ بازان په بله ځي

ښکاري پسرلیه بیا، دا لوبه د سره شوه
هیلی به پوره نشي، زما ارمان په بله ځي

مصطفی پسرلی
25/May/2022

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ